آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۰۳

# لارورکي لارویان

## یولسمه برخه

### د وفا دفتر او فرهنګیان:

د وفا په دفتر کې استاد هیوادمل دوې هیلي رانه وکړې، چې دواړه مې ونه منلې:
یو یې څو ځلې را ته و ویل چې په دویم پوړکې د امین صاحب (رسول امین) دفتر دی، یو وار یې وګوره، خو دا کار ما و نه کړ. سره له دې چې امین صاحب پر ما حق هم درلود، ځکه چې دی زما د لیسانس د زدکړود په دوره کې، دوه کاله زما استاد و او په ټولګي کې ور ته ناست وم.
زه د ټوپکیانو د اورني واک او ظلم په انکار کې داسې سوی وم چې نورمې له جهاد، مجاهد او تنظیمي خلکو نه زړه په چاودیدو و او په دې خبر شوی وم چې رسول امین هم په کوم تنظیم کې سر ښورولی دی. ښایي دا به زما د تپې احساساتو ترسیوري لاندې زما یوه اشتباه وه، ځکه امین صاحب به پرته له تنظیم بازۍ بله لار نه درلوده، خو زما تپي احساسات او...
زما او امین صاحب (رسول امین) وروستی دیدن د کابل په بریښنا کوټ کې شوی و. زما د ښو او بدو ورځو د یارانو (داود مقصودي او ممنون مقصودي) پلار شاه مقصود ګرم مړ شوی و، هغه مو په کابل کې د بابر بڼ اړخ کې، د بریښناکوټ په لمن کې خاورو ته سپاره. د۱۳۵۸کال د ژمي وروستی شپې ورځې وې، خلکو مړې خښاوه، امین صاحب، لالا لطیف او زه، لږ لرې پیتاوی ته ناست وو. امین صاحب په خپل ځادر باندې ناست و، سترګو یې ویل چې خواشینی دی، خو خوله یې لکه تل له خندا ډکه وه. افغانستان باندې د روسي لښکرو د یرغل دري میاشتې نه وې تیرې شوې. امین صاحب و ویل:
«خدای بښلی ګرم شاعر هم و.»
ما د ځوانی له جوشه په ډک غږ ور ته و ویل:
هوکې، ګرم صاحب ما ته په خپل غږ کې یو شعر اورولی و، نور مې هیر دی، خو دا یو بیت یې را ته یاد دی:

خلک وایي چې د ګرم ړیره اوږده ده
خبرنه دي چې دا ړیره نـه ده ړیر دی

امین صاحب د خپلو مرکو په ترخ کې ما او لالا ته و ویل:

**هلکانو!**
**دا مو لکه چې وروستی دیدن وي...**

هماغه و چې امین صاحب بیا په پوهنتون کې و نه لیدل شو. ده رښتیا ویلي وو، هماغه زموږ وروستی دیدن شو او له کابل نه ما سره راغلي عقدې او فکري نا آرامتیا د دې سبب شول چې زه امین صاحب په پېښور کې و نه ګورم.
د هیوادمل صاحب بله هیله دا وه چې، کله به چې ما د کابل د غملړلو حالاتو او ناورین او د ټوپکیانو د ناکردو او نادودو کیسې ورته کولې، ده به لکه تل را ته ویل:
«دغه ولیکه، موږ به یې پرله پسې په وفا اخبارکې خپروو»
خو زما ګوتې او قلم سره مرور وو. هغه څه چې پر ما باندې په کابل کې تیر شوي وو او هغه څه چې ما په کابل کې په سترګو لیدلي وو، هغه ستونزې چې په مخ کې را ته پرتې وې، نا مالومه او تیاره راتلونکې؛ دا ټول هغه لاملونه وو چې زما زړه یې نور له هر څه را تورکړی و. ژوند بې مانا او پوچ را ته ښکاریده، ځکه مې قلم ته لاس نه ورتیریده؛ خو...
خو څه مې کړي وای لیکل زما د ژوند یوه برخه جوړه شوې وه، له زړه تورولې سره مې د مطالعې په وخت یاد داشتونه اخستل. کله چې ماسکو ته ورسیدم د پېښور یوه خاطره مې د یوې مقالې په دول داسې ولیکله:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

...له بده مرغه ما لکه د ډیرو افغانانو په څیر د پاکستان د مهاجرت چاپیریال ولید. هلته ټول مهاجرین په ډیر بد حالت کې ژوند کاوه، په تیره ماشومانو. د هغوی پلرونه د اسلام نه د دفاع په نامه جګړې ته اړ ایستل کیدل، او دغو پلرونو د اسلام په نامه خپلې وینې تویولې؛ خو ماشومان یې په کلمه هم نه پوهیدل، د هغوی د شهادت کلمه هم نه وه زده.
زه له خپلې کورنۍ سره د۱۳۷۲کال د ثور په ۳۱مه پېنور ته ورسیدم. لیدل کیده چې په پیښورکې تلاش ډیر دی، هر څه په هڅه کې دي. څوک په یوه مړۍ ډوډۍ پسې زغلي او څوک بیا د سرمایي حرص پسې اخیستي دي او له یوې تیارې تر بلې تیارې پورې په منډو سر وي. په دې ښار کې د ټولو افغان مهاجرینو ژوند تریخ دی. شتمن هم په عذاب دی او بیوزلی خو هسې هم خدای د عذاب له پاره پیدا کړی دی. ما په پاکستان کې د افغان مهاجرینو لومړنی او وروستنی کمپ چې ولید هغه د کچه ګړۍ کمپ و. هلته افغان مهاجرینو په داسې بد حالت کې ژوند کاوه چې هیڅوک یې تصور هم نه شي کولای.
د ۱۳۷۲هجري شمسي کال د سرطان په لومړۍ نیټه مې د کچه ګړۍ کمپ په کوڅو کې په لس ګونو معیوب، سؤتغذي او بیسواده کوچنیان ولیدل. ما ولیدل چې یو اته یا نه کلن ماشوم په دواړو پښو شل، په ژبه ګونګ و، او له خلکو څخه یې په اشارو خیرغوښته. ښایي خپلې کورنۍ ته یې له همدې لارې ډوډۍ ورکوله. کله چې یې زه ولیدلم، نو د آیس کریم کراچۍ ته یې لاس ونیو او د آ ـ آ ـ أع ـ أع د غږونو په ایستلو سره یې له ما نه مرسته وغوښته. کله چې زه ور نږدې شوم، پر ځان مې یې څو زخمونه او دانې هم ولیدلې. څو کلدارې مې لاس کې ورکړې او نور مې یې د لیدلو توان نه درلود.
ما په همدې ورځ او همدې شیبه ولیدل چې د کال د ماډل په یوه ښکلې داتسونه کې یو ښاغلی؟ ړیرور سپور و او په ډیره بیړه یې موټرچلاوه، نږدې و چې د جهاد د لارې محصول ماشوم تر موټر لاندې کړي.
د افغان مهاجرینو په کمپونو کې په سلګونو او زرګونو داسې کوچنیان وو چې د هر یوه ژوند د لیکلو، ثبتولو او ژړا وړ و. یوه وړه نمونه به یې زه دلته راوړم چې په مستند ډول پیاوړې ژورنالست نوالبشرنوید ثبت کړې ده.
یوه ورځ مې په پیښور کې د یوې مجلې په لومړي مخ کې په دغه عنوان باندې سترګې ولګیدې:

**«ما له کلمه نه راځي»**

په ډیره بیړه مې همغه مخ را واړاوه. هلته له دوو عکسونو سره دغه مضمون او مرکه چاپ شوې وه: «

نوم: زین الدین
د پلارنوم: غواص
علاقه: کندوز ـ ګورتیپه
حال: فارست پلوسې، پیښور
ملاقات: نوالبشر نوید

ما ته یاد نه دي چې زه کله راغلی وم. د مور په غیږ کې وم. وروسته چې لوی شوم، نو په هر څه پوه شوم. زه افغان مهاجر یم. د کندز ولایت د ګورتیپې اوسیدونکی یم. دلته وروکی لوی شوم. پلار مې دري کاله وشول چې په افغانستان کې شهید شو. هغه د کماندر مسعود سره و. زما پلار خپلو مجاهدو ملګرو دلته پیښور ته راوړ. ملګرو یې زما مور ته ووې چې دی شهید دی. د خراسان کیمپ سره خښ کړای شو.
چې زما پلار مړ شو، زما د پلار ملګري هم نه راتلل. زما دوه ماشومان ورونه هم دي. ډوډۍ به نه وه، راشن کارت هم نه و. ما یوه ورځ ماشومان ملګري لیدلي وو چې هغوی خلکو ته سپیلني لوګي کول او خلکو به پیسې ورکولې. ما هم دا ډبې جوړ کړ او مور ته مې و وې چې ستاسو او دوو ماشومانو ورونو د پاره ډوډۍ راوړم. مور راله دوه روپۍ راکړې او ما د سپیلنو دانې په بازار کې واخیستې. په اول ځل چې ښار ته راغلم او سپیلني مې چا ته لوګي کړل، نو هغو شیږ پیسیز راکړو، زه ډیر خوشحاله شوم. ټوله، ټوله ورځ په بازارونو کې وګرځیدم. ما ته یاد نه دي چې په اوله ورځ ما څو روپۍ پیدا کړې دي، خو چې کور ته لاړم نو ډیر ستړی وم، پښې مې خوږیدې. ما مور له پیسې ورکړې، بیا مور څه پیسې راکړې او ما ورله ډوډۍ راوړه. دا زما څه د پاسه یو کال وشو چې د کمپ نه راروان شم او خلکو ته په پیښور کې سپیلني لوګي کوم. څوک راله دیکې راکړې، راته وقهریږي چې مه کوه لوګي راباندې بد لګیږي، څوک راله څه نا څه پیسې راکړي. ما ته دا هم سوال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ښکاري چې خيرات غواړم، خو له دې سوال سره عادت شوم. اول، اول به مې زړه خفه کيده، اوس چې مې مور او دواړه ورونه ډوډۍ وخوري، نو ډير خوشحاله شم. ډير ځلې خلکو وهلی رټلی يمه، خو مور راته وايي چا سره جنګونه مه کوه، موږ په پردی وطن کې يو. دلته خو ته له خلکو نه ډوډۍ غواړې، او چې څوک څه غواړي، نو هغوی ته خلک ستغې سپورې وايي.
موږ ته کله، کله مور د شپې د خپل وطن کیسې کوي، زموږه زړه ډير خفه شي چې زموږه کور به هم وران وي. چې زه خبر شم زما په وطن کې جنګ دی، نو ډير خفه شم. که زموږ وس کيدای، نو خپل کور ته به تلي وو، خو خلک وايي هلته ډوډۍ نه شته.
زه د جمعې په ورځ چوټي کوم. خپل ورونه د پلار قبرله بوځم. اول، اول به زما ماشومان ورونه او زه قبر ته ډير ژړيدو، زما مور به هم ډير ژړل. اوس موږ نه ژاړو. زما مور هم چې قبر له راشي، نو ډير ساعت خفه وي. زما وړوکي ورور يوه ورځ زما مور ته ويلي وو چې:
موږ چې خپل وطن ته ځو، نو پلار به هم بوځو. په هغه ورځ زما مور ډير ژړلي وو. زه هم په دې نه پوهيدم چې زما مور په دې خبره ولې وژړل، خو اوس پوهيږم. زه هم کله، کله خوشحاله شم چې خپل کور ته به ځوو، خو چې د پلار قبر ته ګورم، نو بيا خفه شم چې زما پلار به دلته پاتې شي.
ما ته دا پيښور هم لکه خپل کور ښکاري، ځکه چې دلته وړوکی لوی شوم. هره ورځ د سپيلنو لوګی کولو له پاره فردوس سينما، مالکي منډه يي، خيبربازار او ډبګری ته ځم او واپس بيا روان شم. ډوډۍ د غرمي په بازارکې چا سره خورم. چې د چا نه ډوډۍ پاتي شي، هغوی يې راله راکړي. بيا چې کور ته ځم، نو ورونو له ډوډۍ واخلم.
ما ته کله، کله پلار ډير را ياد شي. اول به ډير ژړيدم، خو بيا راته مور ووې چې ستا پلار شهيد دی. شهيد له پاک خدای جنتونه ورکوي. شهيد ډير لوی وي. ستا پلار د وطن شهيد دی، نو زه ډير خوشحاله شم. اوس هم ډير خوشحاله يم چې زما پلار د اسلام له پاره شهيد شوی دی.

دا پخې پخې خبرې د کندز ولايت د ګورتيپې سيمې د يو پنځلس کلن ماشوم خبرې دي چې په عمر کم دی، خو حالاتو له وخت نه وړاندې بالغ کړی دی.
يوه ورځ يو خيرن، خيچن ماشوم دفتر ته راننوتو. په غاړه کې يې د کپړې تيلی و، په هغه کې د سپيلنو داني وې، په لاس کې يې په يوه ډبې کې د سکرو انګارو. د تيلی نه يې داني په انګار واچولې، لوخړې شوې، ببوزی يې ورته و واهه، يو بل ورته و ويل:
ما- ما- ما لوخړې مه کوه. د هغه زړه لکه چې مات شو. دريم چت ته په ۳۶ پونګو راختلی ماشوم ته يې په بې ارزۍ وکتل. ما ورته اشاره وکړه، هغه سمدستي څو داني په انګار کې واچولې، ما منع کړو.
ما وې په موږ به د چا نظرولګي،د نظرشوي خلک خو تاسو ياست چې بې کوره، بې وطنه، بې ياره بې دلداره شوي ياست.هغه ودريد او ما د هغه دريم چت ته په ۳۶ پونګو د راختلو کفاره ادا کړه. هغه تلو، ما منع کړو.

خبره واوره!
هغه ګم سم ودريد، ما ورته و وې:
ته د کوم ځای يې؟
زه، زه د کندوز يم.
دلته کينه.
زما مخې ته د کندوز ولايت د ګورتيپې شهزاده، د ښار د لوګيو خيرن ناست و. دغه وخت يو بل افغان مهاجر راغی.
سپينه پاکه ښکلې ږيره، تک سپين پټکی په سر کړی، تک سور سپين مخ، ما دغه سپين ږيري ته و ويل:
راشه ستا وطندار دی.
هغه څو ورځې وړاندې ما ته ويلي وو چې زه د کندز د ولايت يم، په سوونو جيريبه زمکه لرم، يو زوی مې سعودي کې دی. هغه له خپل وطندارسره يو څو خبرې وکړې او بيا يې ورته و وې چې اوس ښه سرې له راغلې. هغه ما ته اشاره وکړه او لاړو.
زما مخې ته د کندز ولايت شهزادګان ناست وو. يو شهزاده چې په مخ کې يې نن هم د خپل وطن... توب سره وو او په پټکي يې دوړه نه وه.
بل شهزاده د سپيلنو شهزاده و چې،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د وطن سرخي يي په مخ کي سوزيدلي وه،
په ورو لاسونو کي يي اور نيولی و،
په سپوږمۍ مخ يي د پيښور د لوگو تورکي ووه،
په سترگو کي يي د رنجو په ځای يأس او ارمان و،
د افغانستان د شهيد زوی و،
مور او دوو ماشومانو له پاره يي سوال کولو،
ډوډی يي غوښته،
د خيل وطن ملا ورته ويلي وو چي د اسلام جنگ دی،
ورشئ يو د بل سرونه مات کړئ،
د اسلام او وطن په نوم په لکونو افغانان قتل شوي. يو طرف ته افغان شهيد شو، بل طرف ته يي افغان ته د شهادت مرتبه واخيسته. زما سره د افغانستان د هغه شهيد زوی ناست و، د چا پلار چي«د اسلام په لاره» کي شهيد شوی دی.

ما له هغه نه آخري تپوس کړی و او زه يي گونگی کړی وم:

**بچي!**
**تا له کلمه درځي؟**
**کلمه؟**
**نا، ما له کلمه نه راځي.**
**بچي!**
**مونځ درځي؟**
**مونځ؟**
**مونځ نه راځي.**

زه د اسلام د شهيد زوی ته دوو آخري سوالونو په خپله يو سوال کړم. ما وي راشئ ای د لوی نازولي پيغمبر(ص) د موصلي وارثانو!
ای د افغانستان د مذهب استادانو!
د افغانستان د لکونو شهيدانو زامنو ته کليمه درسته کړئ، مونځ ورته وښايئ. د اسلام او د مذهب د شهيد زوی که درنه نن ډوډی، کور او امن غواړي، نو کليمه هم ورته وښايئ، ځکه چي څوارلس کاله د دې بچو پلرونو د اسلام له پاره جنگ کړی دی.»

له ډيرو هلو ځلو او انتظار وروسته، تاشقند ترپول ايجنسي مونږ ته د ماسکو ويزه واخيسته. د حرکت ورځ را ورسيده. زمونږ پاسپورت، ويزه، تکټ او سفر ټول قانوني وو؛ خو پاکستانيا نو په وروستی شيبه کي هم وشکولو.
پاسپورتونه مي چي د چکنگ له پاره ورکړل، تر ميزلاندي يي کيښودل. ما پوښتنه وکړه چي په اسنادوکي کومه ستونزه پاتي ده که څنگه؟
مسؤل کس و ويل:
هو يو کمبود لري.
ما و ويل څه کمبود؟
هغه گوتي سره وسولولي او يوه يي کړم چي د پيسو کمبود دی او بايد د پاسپورت په سر باندي پنځه سوه کلداري ورکړم او که يي نه ورکوم، زما کار به ځنډيږي چي له پرواز ه پاتي شم.
ما هم تر شونډو لاندي څه ځان ته، څه نا اهلو سياسي رهبرانو ته او څه پاکستاني غلو ته ښه سپک و ورک ويل او د همدې ښکنځلو په ډولی کي مي اضافي پيسي د احمقيولي په نامه پاکستاني غلو ته ورکړې، پاسپورتونه مي تر لاسه کړل او ځانونه مو طيارې ته ورسول.
دا ټول مو خپله په ځان کړي دي.هر څه چي پر افغانانو راغلي او راځي، دا په خپله د افغانانو له لاسه دي،نه د بل چا.
يوه ورځ د ماسکو د مزدوری اودکانداری په لړ کي يو ايرانی دکان ته راغی. مونږ دری تنه افغانان په دکان کي ناست وو. له دې چي د لرې او نږدې هيوادونو په څنگ کي ايران او پاکستان د افغانستان په ټولو چاروکي هر کله منفي رول لوبولای دی، نو له ده سره مو د ايران په آدرس ښه چلند و نه کړ. نا څاپه زمونږ له ډلي نه د يوه تن بحث ور سره پيل شو. افغان ورته و ويل چي ايران غواړي پر افغانستان باندې د فرهنگي يرغل تر څنگ، پر دې وطن باندې د يوه اقليت(شيعه گانو) حاکميت وتپي. د همدې هدف له پاره په ايران کي هغوی تربيه کوي او تر سورمو پورې يي په سلاح او خپلې سياسي – مذهبي ايدیالوژی ډکوي، بيا يي د افغانستان خاوری ته را پورې وهي او...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ايراني په ډېره سړه سينه و ويل:

**«بهرنيان خو به هر څه غواړي، ډېر اهداف به لري؛ خو دا خپله افغانان دي چې د بهرنيانو د لاس آله ګرځي. خپل وطن ورانوي او خپل خلک وژني. تاسو لطفاً خپل وطن، خپل خلک او خپلې ملي ګټې درک کړئ او وې پېژنئ.»**

ايراني په دې خبرو سره په رښتيا چې موږ ګونګيان کړو،خپله مخه يې ونيوله او لاړ.
دا مې د دې له پاره ياده کړه چې په اصل کې موږ خپله ښه خلک نه يو چې د هر چا ډول ته ځنې اړوو، د همدې له پاره هر ځای چې لاړ شو هغه را ته بد او سور اور شي .نه پوهيږم چې موږ ته د چا د ګناهونو پيټی را په شا دی چې ټول عمر دا درونډ بار پر اوږوو باندې زغموو، تر څو او تر کوم ځايه به يې چلوو.

«په دعا اوبه لوړې او اور ښکته نه ځي.»
(بودا)

د يولسمي برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ